


# Orientation to Ontario

## د مصرف کوونکي پوهاوی




1-855-626-0002
orientationontario.ca/en




### د تلیفون او انټرنیټ خدمتونه

په ښاري سیمو کې ډېر اختیارونه (اپشنونه) شته. مخکې له دې چې کوم تړون لاسلیک کړئ، ډاډ ترلاسه کړئ چې ټول اپشنونه وڅېړئ او د هر تړون په ټولو توضیحاتو پوه شئ. تاسو کولی شئ له دې له لارې پیسې سپما کړئ

- د تلیفون، انټرنیټ او کیبل خدمتونه بنډل کول (ترکیبول).
- د ګرځنده تلیفون خدمتونو لهپاره د کورنیو بنډلونو یا طرحو اخیستل.
- د اوږد واټن او نړیوال تلیفون کارت کارول.

که تاسو په کور کې انټرنیټ ته لاسرسی نه لرئ لاندې ټکي په پام کې ونیسئ:

- په محلي عامه کتابتون کې د وړیا انټرنیټ خدمت کارول (د کتابتون کارت په لرلو سره).
- کافي شاپونو او رسټورانټونو ته تلل چې انټرنیټ ته وړیا بې سیم لاسرسی وړاندیز کوي (چې WI-Fi یا هټ سپاټ هم ویل بلل کېږي).

د تلیفون او انټرنیټ خدمتونو په اړه نور معلومات په settlement.org یا findlink.at/dailylife کې تر لاسه کړئ.

### کاناډا پوسټ

- تاسو کولی شئ په ټولو ښارونو او ښارګوټو کې د کاناډا پوسټ پرچون پلورنځیو له لارې کڅوړې یا بستې واستوئ او ترلاسه کړئ.
- تاسو کولی شئ د کاناډا پوسټ د ای پوسټ خدمت سره آنلاین بیلونه اداره او تادیه کړئ.
- د نورو محصولاتو او خدمتونو په اړه د معلوماتو لهپاره canadapost.ca یا ca وګورئ.

### خواړه اخیستل

تاسو کولی شئ په لاندې ځایونو کې خواړه واخلئ:

- د خوراکي توکو پلورنځي او سوپر مارکیټونه.
- د اسانتیا لرونکي پلورنځي (یا "کونج پلورنځي"). په دې پلورنځیو کې خواړه خورا ګران دي.
- د میوو او سبزیجاتو کوچني بازارونه.
- قصابۍ او نانوایۍ.

### مهم یادښت

اونټاریو سیمهییز خوراکي بانکونه لري چې په مالي ستونزو کې خلک کولی شي وړیا خوراکي توکي ترلاسه کړي. 416-656-4100 ته زنګ ووهئ یا په feedontario.ca یا findlink.at/Foodbanks وګورئ.

### انعام ورکول

که تاسو احساسوئ چې په رسټورانټ یا ټکسي کې : مو ښه خدمت ترلاسه کړئتاسو اختیار لرئ چې پر خپل په توګه Tip بیل سربېره یو څه اضافي پیسې د انعام یا ورکړئ. دا اضافي پیسې معمولا د بل 10-15٪ وي. انعام ورکول لازمي نه دي

### د مصرف کونکي خوندیتوب

د مصرف کوونکي په توګه تاسو د مصرف کوونکي ساتني قانون له خوا خوندي یاست. د نورو هغه څه په اړه د معلوماتو لهپاره چې په دې کې څه شامل دي، مهرباني وکړئ ontario.ca یا findlink.at/consright ته مراجعه وکړئ.

Funded by / Financé par

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

# د مصرف کوونکي خوندیتوب

موږ ټول د مصرف کوونکي په خوندیتوب کې رول لوبوو. حکومت د مصرف کوونکو د ساتنې لپاره قوانین ټاکي او شرکتونه باید د پیرودونکو او کارمندانو معلوماتو ساتلو لپاره قوانین تعقیب کړي. خو په کاناډا کې هرڅوک باید د ځان ساتلو لهپاره ګامونه پورته کړي.

- د مصرف کوونکو چارو دفتر په consumerinformation.ca کې د مصرف کوونکي خوندیتوب د ډېرو موضوعاتو په اړه معلومات چمتو کوي.
- د کاناډا د درغلیو ضد مرکز په antifraudcentre-centreantifraude.ca کې د مصرف کوونکي درغلۍ په اړه معلومات راټولوي او شریکوي.

## د هویت غلا

د هویت غلا هغه ده چې یو شخص ستاسو شخصي معلومات د جرم کولو لهپاره ستاسو له اجازې پرته کاروي. د هویت غله ممکن ستاسو د پیسو غلا کولو لپاره ستاسو هویت وکاروي یا د پیرودلو لهپاره ستاسو کرېډېټ کارټ وکاروي. دوی ممکن د نورو جرمونو د ترسره کولو لهپاره ستاسو هویت او نوم وکاروي

د لاندې معلوماتو او اسنادو ساتنه خورا مهمه ده:

- د ټولنیزې بیمې شمېره
- د موټر چلوونې جواز (لایسنس) شمېره
- د روغتیا کارت شمېره
- د کرېډېټ کارت او بانکي معلومات
- د بانک کارت
- د زیږون سند
- پاسپورټ
- ویزه او د مطالعې اجازه

غل کولی شي له بېلابېلو لارو ستاسو هویت غلا کړي. دوی کولی شي ستاسو له میل باکس څخه برېښنالیک واخلي، یا ستاسو بټوه، لاسي بکس، یا بېګ غلا کړي. غله کولی شي ستاسو د کور، موټر، لاکر یا حتی ستاسو د کثافاتو او پاتې شونو له ټوکرۍڅخه کاغذونه او مهم اسناد واخلي

## آنلاین خوندیتوب

آنلاین بانکداري او پیرود ستاسو د هویت غلا خطر زیاتوي. ستاسو معلومات د کمپیوټر څخه غلا کیدای شي. د عامه کمپیوټرونو لکه په کتابتونونو او کمپیوټر لابراتوارونو کې د خپلو اکاونټونو د کارولو پرمهال خورا محتاط اوسئ. تل د خپل برېښنالیک او ویبپاڼې څخه ووځئ. خپل پاسورډونه په ویبپاڼو کې مه پرېږدئ او د لټون تاریخ حذف کړئ.

- د هغو لیږدونکو برېښنالیکونه مه ځوابوئ چې تاسو یې نه پیژنئ او اسو د شخصي معلوماتو غوښتنه کوي.
- د هغو خلکو په پیغامونو کې لینکونو باندې کلیک مه کوئ چې نه یې پیژنئ.
- په هغو برېښنالیک پیغامونو باور مه کوئ چې انعامونه، جایزې، یا د پیسو ګټلو چټکې لارې وړاندې کوي.
- هیڅکله خپل پاسورډونه مه شریکوئ او اټکل یې ستونزمن کړئ.
- له ویبپاڼو لکه eBay, Craigslist, Kijiji څخه د پیرود په اړه محتاط اوسئ؛ ناپیژاندو کسانو ته پیسې مه لیږئ

## مخنیوی

یو ځل چې ستاسو هویت غلا شوی وي ستونزه په خورا سختۍ حل کېدای شي. ستاسو اعتبار ممکن د ډېرو کلونو لهپاره لهمنځه لاړ شي، چې دا کار د ګرځنده تلیفون حساب، کرېډېټ کارټ، یا حتی ګروي ترلاسه کول ستونزمنوي.

په کاناډا کې د خپلې ټولنیزې بیمې شمېرې د ساتنې په اړه معلومات په لاندې ادرسونو ترلاسه کړئ: servicecanada.gc.ca یا findlink.at/IS-SIN ته مراجعه وکړئ.

د شخصي معلوماتو د خوندیتوب په اړه د نورو معلوماتو لهپاره د اونټاریو حکومت ویبپاڼه ontario.ca یا findlink.at/persinfo وګورئ.

## د کریډیټ راپورونه

ستاسو د کریډیټ راپور ستاسو د پور ورکړې، کرېډېټ کارتونو، د تلیفون او انټرنېټ حسابونو او نورو بیلونو په ګډون ستاسو د ټولو مالي معاملو څخه معلومات راټولوي. د تادیاتو ځنډول یا پرېښودل یا د بیلونو نه ورکړه به ستاسو د باور نمرې کمې کړي. دا به ستاسو د پور یا ګروي ترلاسه کولو پر وړتیا اغېز وکړي.

د Consumer Protection Ontario ویبپاڼې ontario.ca یا findlink.at/credreport کې په اونټاریو کې د باور یا کرېډېټ راپورونو په اړه نور معلومات ترلاسه کړئ.

## ایا پوهېدئ؟

**مصرف کوونکي مسؤلیت لري چې د خپل ډیبټ او کرېډېټ کارتونه او د دوی شخصي پېژندنې شمېرې خوندي کړي. تاسو باید د ورک شوي او غلا (PINs) شوي کارتونو راپور ورکړئ ترڅو هغه غیر فعال شي. ورکړئ، تاسو ممکن د PIN که تاسو یو چا ته خپل هغې درغلۍ مسؤل وبلل شئ چې هغه یې کوي**

## مهم یادښت

که تاسو فکر کوئ چې ستاسو هویت غلا شوی، تاسو کولی شئ د لاندې کرېډېټ راپور ورکولو ادارو سره په تماس کې د خپل کرېډېټ راپور کې د درغلیو خبرتیا ورکړئ: Equifax: 1-800-465-7166 او ټرانس یونین: 1-877-525-3823.

